مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۴/۰۳/۱۳

غم وخوري که ځان؛ چې اول څه و خوري!؟

غم وخوري که ځان؛ چې اول څه و خوري!؟
تش دی دسترخوان؛ چې اول څه وخوري؟

یو پخپلو اوښکو روژه ماته کړه
بل ورته حیران چې اول څه وخوري؟

یو لوښی د زهرو بل د غلا خواړه
زیان دی د ایمـان چې اول څه وخوري!؟

خپل د لـوږې؛ درد کـه د بچـو ژړا؟
ګیچ دي افغانان ؛ چې اول څه وخوري!؟

دریغه د باور قام پاتې شـونـو تـه
ناست دی پر ډېران چې اول څه وخوري

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ